بسم الله الرحمن الرحيم

## پرېکړه لیک

# د ختیځ زون د سوداګرو او متشبثو مېرمنو مشورتي ناسته او د سوداګرۍ خونې پرانیستنه

**۳۰-۳۱ غويي، ۱۴۰۲**

**جلال اباد ښار، افغانستان**

د ښځو سوداګرۍ او صنايعو خونې د افغانستان د خلکو غږ مېکانېزم په هر اړخيزه همکارۍ او اسانچارۍ، په جلال اباد ښار کې د سوداګرو او متشبثو مېرمنو دوه ورځنۍ مشورتي ناسته ترسره کړه. په دې ناسته کې د ننګرهار، کونړ، لغمان او نورستان ولايتونو څخه نږدې پنځوسو سوداګرو او متشبثو مېرمنو برخه اخېستې وه.

د ناستې موخه د ختیځ زون د سوداګرو او متشبثو مېرمنو غوښتنې، اندېښنې او ننګونې راټولول او همدارنګه په اوسنيو فرصتونو پر بحث سربېره، په ياد زون کې د مېرمنو سوداګرۍ او صنايعو خونه پرانيستل وو.

د ناستې په بهير کې ګډونوالو، په هېواد کې د سوداګرو او متشبثو مېرمنو اوسني وضعيت او په ځانګړې توګه د هغوی اقتصادي او ټولنيز وضعيت له هر اړخيزې څېړنې، د اقتصادي فعاليتونو پرمخ وړلو په لړ کې د اوسنيو خنډونو او فرصتونو په اړه تر هر اړخيز بحث وروسته، د خپلې کورنۍ او ټولنې له لوړې او بېکارۍ نه د خلاصون په موخه د مرستې مسؤليت او رسالت درک کولو، اسلامي ارزښتونو او ملي ګټو ته په پوره ژمنتيا، دوامداره سولې، ثبات او ملي يووالي ته په درناوي او له دې په پوره خبرتيا چې د خلکو او حکومت ترمنځ همکارۍ او همغږۍ ته د رسېدو يوازينۍ لار په ثبات او سوکالي کې ده، مونږ ټول ګډونوال د نظرونو په توافق، لاندې ټکي بيانوو:

1. مونږ د افغانستان اسلامي امارت څخه مننډوی يو چې د سوداګرو مېرمنو لپاره يې ددې ارزښتناکې ناستې د ترسراوي زمينه برابره کړه او په دې برخه کې يې له مونږ ملاتړ وکړ. مونږ په ختيځ زون کې د سوداګرو او متشبثو مېرمنو د خونې پرانيستنه يو نېک ګام او په ورته حال کې لويه لاسته راوړنه ګڼو او د افغانستان اسلامي امارت له چارواکو غواړو چې په سيمه‌ييزه کچه ددې خونې د اقتصادي فعاليتونو پرمخ وړلو او همدارنګه د سوداګرو او متشبثو مېرمنو اقتصادي وضعيت د لا ښه والي په موخه، لازمې اسانتياوې برابرې کړي.
2. مونږ د هېواد د مېرمنو اقتصادي او ټولنيز وضعيت له هر اړخيزې شننې او څېړنې وروسته ومونده چې د افغان مېرمنو او په ځانګړې توګه کونډو او بې سرپرسته مېرمنو اقتصادي وضعيت، چې د خپلو يتيمو اولادونو د لګښتونو مسؤليت پر غاړه لري ښه نه دی او زياتره يې بېوزله او بېکاره دي. له شک پرته ددې

بې‌وزلو مېرمنو او بې سرپرستو ماشومانو اقتصادي او ټولنيزې ستونزې ټولنه اغېزمنوي. له همدې کبله مونږ د افغانستان اسلامي امارت څخه غواړو چې د هېواد د مېرمنو ستونزو ته رسېدنه په خپلو لومړيتوبونو کې ونيسي او د حل په موخه يې اغېزمنې پالیسۍ‌گانې طرحه او پلي کړي.

3. مونږ د افغانستان اسلامي امارت څخه غواړو چې د ختيځ زون سوداګرو او متشبثو مېرمنو ته د لازياتو صنعتي پارکونو په جوړولو سربېره، هغوی ته د حسنه پورونو په ورکړه، په ماليو کې تخفيف، د لاسي صنايعو د خرڅلاو او ځانګړو مارکېټونو جوړولو او همدارنګه د مېرمنو لخوا اداره او رهبري کېدونکو شرکتونو ته د فعاليت جوازونو په ورکړه کې لا زياته مرسته او همکاري وکړي.

4. مونږ سوداګرې او متشبثې مېرمنې له نړيوالو مؤسسو او بنسټونو غواړو چې افغان مېرمنو ته د بشري خدمتونو په وړاندې کولو سربېره، په تړونونو او تدارکاتي چارو کې د مېرمنو له خوا اداره او رهبري کېدونکو مؤسسو او شرکتونو ته لومړيتوب او ځانګړې ونډه ورکړي، ترڅو په بازار کې سالمه سيالي وکړي. دا چاره به نه يوازې د مېرمنو اقتصادي په ځان بسياينه ډاډمنه کړي، بلکې په سوداګرۍ او صنعت کې به هم د دوی شتون ډاډمن کړي.

5. د نړيوالې ټولنې له خوا اقتصادي بنديزونو د افغانستان پر اقتصادي وضعيت ناوړه اغېزې کړي؛ له همدې کبله له نړيوالې ټولنې غواړو چې د لوږې او قحطۍ څخه د افغانانو د خلاصون په پار، دا اقتصادي بنديزونه لرې کړي.

6. ګډونوالو ټينګار وکړ چې په ختيځ زون کې د سوداګرو او متشبثو مېرمنو ټولو اوسنيو ستونزو، لکه د کورنيو توليداتو د زياتوالي په موخه په کار اچول شوو سرچينو او سيمه‌ييز مارکېټ ته د نه لاسرسي او همداشان د محلي توليداتو د خرڅلاو په برخه کې شته ستونزو ته جدي پاملرنه وشي.